# ه دخدای ج کارونه دي

## ناول



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم .

## ـــــــــــ ناول ـــــــــــ

دجمعې په ورځ به اکثره وخت کارت سخي زيارت ته تللم؛ کور ته مو لنډ دی، کوم مصرف مې نه پرې راتلو، نو په همدې اساس دا ځل هم دجمعې ورځ وه، تر کړکۍ مې وروکتل، په زيارت کې او زيارت ته څېرمه سمه ګڼه ګوڼه وه، زانګوګانې پکې ګډېدې، دماشومانو چغو پوغ وو، سم دلاسه جګ شوم راساً ور روان شوم. بلاخېره زيارت ته ورسېدم، لږ هاخوا دېخوا مې سترګې وپولې، نور مستقيم لاړم په پورتنۍ سپاچه (برنډه) مې دسمال رالاندې کړ، کرار کېناستم، اکثره خلک فاميلي راغلي وو، فرشونه يې هوار کړي وو ديګونه (پخلي) يې کول، چا هندوانې، خربوزې چاق کړې وې، ما هم مبايل راويستو يو ملګري ته مې زنګ وکړ؛ له بدمرغه مبايل يې بند وو، کني زړه مې وو، چې را ويې غواړم، يوه هندوانه، مندوانه به موږ هم وخورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دا چې تنها پاتې شوم، څو دقيقې نور هم ناست وم، بلاخره زړه مې تنګ شو، راپاڅېدم، له دوه، دريو سپاچو راښکته شوم؛ په څلورمه ديوه ګلدان ترڅنګ، دپپسي دبوتلو او بسکوټو دکاغذونو مينځ کې يو غټ سامسونګ ګلکسي مبايل پرت و، زر پرې ورټيټ شوم ديو بسکوټ دکاغذ سره جوغت مې راپورته کړ، د اوړې د دسمال سره مې پېچلی لاس کې غلی ونيو نور مې ونه کتلو چې روغ يې که خراب وېرېدم څوک دعوه پرې راونکړي، مستقيم ورسره راروان شوم دزيارت له ګټې ګوټې ووتلم بهر دهديرې منځ کې چې زموږ دکور لار همداسې پکې راتېره وه، غلی غلی مې لږ، لږ وکتلو منځنی بټنه مې يې کليک کړه صفحه يې روښان شوه، خو په داخل کې يې دنورې لاسوهنې لپاره رمز غوښتو؛ واپس مې يې صفحه خاموش کړه، نور مې نو کرار دا دبغل جيب کې ورخوشې کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سخت ورته خوشحاله شوم ځکه چې له یوې خوا مې تیار یو غټ مبایل ته ضرورت وو، خپل مې نور له کاره لوېدلی و، او له تاسو يې څه پټه د اخیستو پیسې مې يې هم نه لرلې، بلخوا که فکر موکړی وي، دامندلي شی هسې خوشحالي لري، خلاصه، کورته مې راورسو، سم دم مې دکمپیوتر سره وصل کړ؛ رمز مې يې پرې والوزوو. د رمز د له منځه وړلو سره سم، په سکرین زما په سن ديو ښایسته زلمي تصویر رامخ ته شو، بیا مې کردیت پکې وکتل، 712 افغانۍ پکې وې، دا يې لا بله خوشحالي شوه، پسې پیام پاڼې ته لاړم دانترنټ معلومولو په پار (7) مې 344 ته واستول؛ واپس پیام راغلو 2400MB انترنیت هم پکې وو، ها خوشحالي څه وه، چې دا يې لا بله شوه، له دې هر څه نه په دې خبره ډېر خوشحاله شوم، چې دغریب سړي نه دی، تر څو زړه يې پسې وخوړېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا بل وانخستلی شي، ځکه غریب سړی مبایل کې دومره کردیت او انترنت نشي اچولی، نور له پیام پاڼې راووتلم؛ چې کتل مې فسبوک هم خلاص ترې پاتې وو، ډیټا مې پرې راچلانده کړه؛ ایډي یې د ( یونس جان ) په نوم وه، تو له ایډي مې سر تر پایه چک کړه؛ ډېر باادبه؛ دیني، هر اړخیزه علمي او معلوماتي پوستونه یې کړي وو، پوستونو ته په کتو یې ډېر شریف، له انسانیت مالامل انسان ښکارې ده، واقعاً، وجداني نارامتیا یې راوچوه، زړه کې مې لړ لړ دا خبره وګرځېده، چې مبایل مې یې واپس ورته سپارلی وای، داسې شریف؛ او هېوادنۍ مینې ته ژمن انسانان باید زما له لاسه خپه نشي.

په همدې فکر؛ فکر کې له فسبوک راوتلم، ګالري مې راخلاصه کړه؛ چې کتل مې یو څو ویدیوګانې، دوه، درئ یې دعبدالله مقري، یوه دوې دنغمې او همداسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه یې دلطف ننګرهاري، هغه میهني ویدیو پکې وه چې وایي، (لولفه شوم اور مې واخیست...... اې بچیانو ستاسو کور افغانستان یم...) نور له دې پوښې هم راووتلم عکسونه مې راوسپړل، چې کتل مې په زرګونو عکسونه پکې و، ډېری یې دنظامي کسانو وو؛ خپله یې هم ډېر عکسونه په نظامي ینفورم کې اخېستي وو، ځینو کې تنها؛ ځینو کې دملګرو سره ولاړ، او همداسې دپوهنتون نه دفراغت په خولۍ او چپنه کې دجشنوارې د دورې په انفرادي، او همصنفیانو سره په جمعي توګه ئې ډېر عکسونه اخیستي وو؛ پسې راتېر شه ډېر نور دغیرې نظامیانو؛ ښو ښو منظیرو؛ ګلانو، حیواناتو... عکسونه پکې ځای په ځای وو، خو ددې ټولو سربېره یوه پوشه کې ځانته تقریباً دېوې پنځه ویشت ،دېرش، کلنې ښځې شپږ، اوه عکسونه وو؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلور يې په يوازې ځان اخيستي په دريو نورو کې يو ببرسرى سپين پوستى ماشوم هم ورسره دى، په يوه عکس کې ورسره ناست دى، بل کې ولاړ دي، او همداسې دريم کې يو بل ته غاړې وتلي، داسې تصور ترې کېدو چې خپله مور به يې وي، دا ماشوم به هم خپله همدا دمبايل صاحب وي، ځکه چې يو خوا له کاغذي سابقه عکسو اخېستل شوي عکسونه و، بل خوا دفسبوک په بګروند او لمړي نمايش کې يې هم درى ځلور عکسونه له همدې عکسونو ځاى په ځاى کړي وو، نور والله علم.

خلاصه مبايل مې په هر حساب چک کړو، ددې سربېره چې ښه نوى، اصيل او قيمتي سيټ دى، لکه څنګه مې چې مخکې يادونه کړې، دکرېدتو، انتريت، هم ډک دى، د 62 GB حافظې له پاسه؛ يو 8GB ميمري کارد يې هم درلود. نور مې نو بېغمه خپلې استعفادې ته واچو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده فسبوک مې هم بېخي پکې بند نکړو، خپله ایډي مې په بل فسبوک افشن کې خلاصه کړه، څو ورځې ووتلې، هره ورځ به مې یو نوي نوي داسې څه پکې لیدل چې روح ته یې پوره تکان ورکو، دې ته یې هڅولم تر څو یې مبایل واپس خپل صاحب ته تسلیم کړم، خو حیر په همدې شان څو نورې ورځې هم تېرې شوې؛ اما تر دې دمه هیچا زنګ پسې ونکړو، نور دا فکر هم راته پیدا شو؛ چې صاحب یې، ولې زنګ نه پسې وهي؟ مړ نه وي، تصویرونو؛ او فسبوکي افکاروته په کتو یې دمرګ لایق خو نه دی، خدای ج دې نه کړي، خلاصه میاشت تېره شوه لا یې هم چا پوښتنه ونکړه؛ نور نو زه هم په دې شوی وم، چې هر څنګه وي، زه باید ددې سړي معلومات وکړم؛ که ژوندی وي، مبایل به یې ورته تسلیم کړم؛ په همدې نیت ګوشی کې دشمارو په لټه شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې دوې شمارې پکې ثبت وې، یوه مې ونیوه خاموش وه؛ بله مې ونیوه دې هم زنګ نه تېرو. فسبوک ته مې یې فام شو؛ قصد مې وکړ چې په اړه یې دده په خپله ایډي کې یو پوست وکړم شاید فسبوکي ملګرو کې یې په اړه چا ته معلومات وي، واپس ووېرېدم ماوېل: هسې نه د ځان لپاره څه جنجال جوړ کړم.

خلاصه زړه نا زړه مې یې فسبوک ایدي کلیک کړه، له راخلاصیدو سره سم کړنګ؛ کړنګ شو، دوه درې مسېجونه ورته راغلل؛ دا دوه یې هسې طنزي تصویرونه وو؛ دریم مې راوسپړلو چې کتل مې د (سیاره حیا) په نوم یوې نجلۍ لیکلي وو:

(یونس جانه؛ تاخو هېڅ ونه وېل؟)

دې خبرې ته مې سودا شوه، پورته پسې ورتېر شوم چې کتل مې، دوه مسېجونه یې نور هم کړي وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلمړي يې له میاشتې زیات وخت وتلی وو؛ خپله دمبایل صاحب هم لوستی وو، د دوهم بیا 15 ورځې وتلې وې،
په لمړي مسیج کې يې لیکلي وو:
_یونس جانه سلاممم¡
تر هر څه مخکې هیله ده، کامل صحت، او روحي سکن ولرې.
پس له سلامه باور وکړه کالونه کېږي غواړم دا خبره درته وکړم، خو بدبختانه له یوې خوا پښتنې حیا اجازه نه راکوله جرات مې نه شوای کولی، له بلې خوا داسې الفاظ نه وو، او نه مې اوس پیداکړي چې اکلً ستاسره له سرشاره لېونۍ مینې مې، څه ناڅه خو دهر ذربان سره تاپسې دخپل زړه ناره مې دربانديې اورولې وای.
تر څو تاسره تړلو نړۍ، نړۍ هیلو یو تت انځور خو مې درته ښکاره کړی وای.
تر څو، څه نا څه خو مې تاته د اندام، اندام؛ رګ، رګ لوړه تنده درته ښودلې وای،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او...
په پای کې دهمدې دریو ټکو په کارولو سره یې مسېج را استولی وو، نور یې څه نه وو لیکلي.
ما هم ګوته پرې کش کړه، دا صفحه مې پورته تېره کړه، د دوهم مسېج په لوستو مې پیل وکړ، په دوهم کې یې لیکلي وو:
- یونس جانه بیا سلام!
څواب ته مې دې دوه سترګې څلور شوې څلور اته شوې اته شپاړس. اما بدبختانه رامعلوم نشو، خو اوس په دې فکر یم، شاید مسېج مې دې لوستی وي، مګر هسې خبره دې ګڼلې وي، یا یې نورو فکرو ته وړی وي، څکه چې نن سبا، بل خصوص ددې اجتماعي رسنیو په دوارن کې دا دمینې خبره دچل ول مکارۍ، مادي او معنوي مفادو دترلاسه کولو مقوله آله ګرځېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هیله کوم ما دهغه خلکو له جم نه مه شماره، زه مې دخپلې خبرې دربښتینولۍ، کامل اخلاص او ثبوت لپاره ستا هر سوال، هرې غوښتنې ته تیاره یم،
او ستاسره د واقعي مینې او نورو نه دجداولي په خاطر د یو وړکی ثبوت په حیث به دا درته ووایم: چې زه لکه نورې نجینې غوندې، ستا په ښه څوانۍ، ښایسته وېښتو، قد قامت، ملک او شتمنۍ نه یم مینه، څکه چې ته ما تقریباً دیرلس کاله له مخه لیدلی یې هغه وخت وړکی ماشوم وې دګیرې میرې دې نوم نه وو، ویښته دې بې ترتیبه غټ وو، د میاشتو خیرن ببر سر دې وو، زړې جامې دې په تن وې، یعني دمینې درباندې راتلو هیڅ درکې نه و؛ او همدسې اوس مې دې هم له یونیم فسبوکي انځور پرته، نه ته لیدلی یې نه مې دې څواني لیدلې؛ نه مې دې موټر، بلډینګونه لیدلي، او نه معنا راته لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه اړتیا ورته لرم.
طبعاً اوس به دا سوال درته پیداشوی وي، چې نه دې لیدلی یم، نه مې دژوند له نورو برخو معلومات لرې، څنګ امکان لري چې څوک بیا د چا سره دومره مینه ولري؟
ددې خبرې په تړاو دې وایم، که یاد دې وي؟ دولس دیارس کالونه له مخه چې ورکی ماشوم وې، که څه هم هغه وخت زه له تا ورکۍ وم دومره نه پوهېدم؛ خو را وروسته، وروسته چې پوهېدم، په هغه ورکي ځان چې تا له کوم غیرت؛ جرات او هوښیارۍ نه کار واخیستو زما دپلار له جنسي تیري دې ځان وژغورو، هغه ورځ تا یوازې ځان ونه ژغورو بلکې زه دې هم بوټه درپسې ماته کړم، په همغه غیرت، جریت او هوښیارۍ دې مینه یم، دا ستا دمینې یو ځینځیر دی چې بند په بند دې پرې تړلې یم، شرنګېږي.
دوهم اوس د فسبوک له لارې په انځورونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې دې دنظامي دريشۍ په مټ له رتبې (نښان)
قدرت وينم، يعني اوس دې زما د پلار، په وړاندې.
دمور سره دې دشوي ظلم دعاملينو.
ستا دکور، ځمکو دغاصبينو او همداسې نورو هغه
ځناورو په وړاندې چې ستا له ناتوانۍ، بېکسۍ،
مظلومۍ نه په استفاده يې په تا او ستا په
مادياتو، معنوياتو ځناورنه حملې وهلې، دټولو په
وړاندې دې دغچ اخيستو په پار هر څه وس کې
شته، اما ستا صبر او حوصيلې ته صد سلاممم، دا
په دې وروستيو دوه، دونيمو کالو کې ستا دمينې
دوهم غشی دی، چې زه دې پرې ويشتلې يم، پورې
ورې رانه وتی.
خلاصه په ټوله معنا دې له معنويته، متثره، يم،
لکه مور ته دتي خوري
ماشوم غونډې مې دځنګ ته زړه درکېږي، هيله،
هيله، هيله کوم ناهيلې مې نکړې.
(په درنښت، دخواب په اميدددد.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسېج همدومره و، لکه مخکې مې چې يادونه کړې
زه يې هم په مبايل کې بېلو بېلو فعاليتونو ته په
کتلو مخکې له مخکې دخپل انسانيت تر سيوري
لاندې راوستلی وم؛ اما (دسيارې) دمسېج په
لوستوه؛ دسيارې خبره زما يې هم ليدو، او بنډار ته
لکه مور ته دتي خوري ماشوم لېونۍ اشتها شوه،
او بل خوا مسېج کې دسيارې له خوا دده په تېر
ژوند کې ځينو ډېرو عجيب او هيجاني خبرو ته
اشاره شوې وه؛ ددې په اړه راولاړو پوښتنو هم
دځواب له لپاره ديونس ليدلو ته ښه سم وادار
کړم. پخپله ددې سيارې په باب به څه وايي؟ دې
خبرې ته مې بيا تر ټولو زياته تلوسه شوه.
په همدې فکر کې يو ځل بيا مې په ګوشۍ کې
ثبت دواړه شمارې داېرې کړې، دتېر په څېر بيا يې
هم زنګ تېر نکړ، نور نو داسې کومه سمه لاره نه
رامعلومېده چې يونس مې پرې پيدا کړی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

واپس مې خپله فسبوک ایډي پکې راخلاصه کړله،
که څه هم ځان ته مې بار، بار ډاډ ورکولو چې څه
څه پسې ګرځې؟ خو روح نه آرامېدو په همدې
شان دوې ورځې نورې هم تېرې شوې، دریمه ورځ
د ماسپښین دوې بجې وې نیم غړانګی ویده وم،
چې بالښت سره مې لړزه شوه، ور ومې کتل همدې
مندلې کوشۍ ته زنګ وو، راپورته مې کړه، د
اوکې سره سم مې غږ پرې وکړو
👷🏻بلې!
مقابل کس غږ وکړ:
👮🏾- سلام ورورہ ښه یې؟
👷🏻- شکر دی، ته ښه یې؟
👮🏾- هو شکر زه هم ښه یم، یوه خبره مې درته
کوله که په قهر کېږې نه؟
👷🏻- نه ولې مهرباني!
ویې خندل بیا یې ووېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

👮🏾- همدغه سیمکارت چې زنګ مې پرې در کړی، سره له ګوشۍ یوه میاشت مخکې رانه ورک شول، فکر کړم تا پیداکړې؟
👷🏻- هو¡
خندا کې یې وویل:
👮🏾- ښا، ځنګه واپس یې راکوې کنه؟
👷🏻- نه¡
👮🏾- ټوکې کوې که رښتیا وایې؟
👷🏻- څه ملانصرالدین درته ښکارم؟
د نرمې خندا غږ یې راغلو، بیا یې ووېل:
👮🏾- ښا، ځه نو مبایل دې ستا وي، اما یوه ځواني وکړه¡
👷🏻- څه؟
👮🏾- شاید لیدلي دې وي، ګالرۍ کې مې د ملګرو عکسونه دي، چې اکثریت یې اوس شهیدان دي، دا هم په هر حال په یوه پوشه کې مې د مور یو اووه، اته عکسونه دي، ته باور وکړه ټوله زندګي مې همدغه عکسونه دي، له هر طریقه چې کولی شې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د واتساف؛ ویبر، مسېنجر او یا هم له بلې ممکنه لارې که راته ودې لیږل تول عمر به دې دعاګوی یم.
ومې وېل:
👷🏻- رښتیا؟
👮🏾- هو، قسم ده¡
👷🏻- سمه ده دا کار کوم اما په یو شرط¡
په نرمه خندا پسې پیوست یې وویل
👮🏾- څه؟
👷🏻- ادرس درکوم همدا اوس به په موټر کې راخېژې شپه به ماسره کوې، خو قسم به هم سر له همدې اوسه راسره کوې، چې دسیارې په اړه، او سیارې چې ستا په تېر ژوند کې کومو خبرو ته اشاره کړې هېڅ به نه رانه پټه وې نه به ذره دروغ وایې¡
دلته نو سړي ښه سم وخندل، بیا یې وویل:
👮🏾- ته به ښه جنت ته ولاړ شې داسې ته خوږ ګوتو خلک نیسه، آورې؟
په خندا مې ورغبرګه کړه¡

- هسې مې تلوسه شوې، ستا نه دا کیسه غواړم، اما ډاډ درکوم چې داسې فرض کړه لکه دېوال ته دې چې کړې وي¡
خلاصه له ډېرو دلیلونو ملیلونو وروسته مې قانع کړ، وېل یې:
- آدرس راکړه¡
- اوس چېرته یې؟
- پلخرخي کې¡
- ښا، ښا صحیح سینما پامیر ته راشه له هغه ځایه د کارته سخي موټر راځي په یوه کې راوخېژه، زه په استادګاه درته ولاړ یم، همدې شمارې سره تماس کې اوسه.
څه سر مو در خوږوم، یو دوه ساعته وروسته تقریباً ماښام وو، چې راورسېدو، له یو تونس موټر نه ښکته شو، سم دم مې وپېژندو، خو لږ شکمن څکه شوم چې لاس کې یې یوه هندوانه نیولې وه؛ ماوېل: هسې نه ددې کورو څوک وي، یوه لهذه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبر ورته وکړ، چې دی دسرک په څنډه ودرېدو، هاخوا دې خوا یې وکتل بیا یې مبایل ته لاس کړ، نور مې شک ورک شو، پرې ور روان شوم؛ دده هم چې سترګې راباندې ولګېدې موسک شو، هندوانه یې چپ لاس ته کړله، ښی لاس یې دغېږو لپار خلاص کړ، بلاخېره سترې مشي مو وکړه، له پوښتنې وروسته یې وېل: کاشکې ستاسو کور بل ځای وای، ددې ساحې نه مې سخت بد راځي¡ پوښتنه مې ترې وکړه ولې؟ دا خو بد ځای نه دی، په خندا شو، وېل یې:
👮🏾یوه میاشت مخکې راغلی وم، دومره ستونزې راته ترې جوړې شوې، کنې مخکې مې ډېر خوښېدو.
په دې خبرې سره یې زه هم وخندوم؛ بیا مې ورته ووېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

👷🏻 دا هندوانه دي، ولې اخېسته زموږ کور له سرک نه لرې دی، اوس یې څوک یوسي؟ وېل یې؟
👮🏾‍♂️- زه یې وړم¡
بیا مې ورته ووېل:
کور مو هم نور څوک نشته، زه تنها یم، زما بده ایشي¡
په خندا کې یې راغبرګه کړه، ځه خیر زما ورسره جوړه ده، د ډوډۍ نه پرهېز یم، همدا به خورم.
خلاصه په همدې ګپ، ګپ کې کور ته ورسېدو؛ مخکې له دې چې مهمانخانې ته ننوځي، مخ یې راوړو، وېل یې: وبښه که تکلیفېږې نه، لږ د اودس کولو اوبه راکړه، دا لمونځ به وکړو.
اوبه مې ورکړې اودس او لمونځ یې وکړل، بیا مې چای ورته راوکړو؛ دچایو په سر مې پوښتنه ترې وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

👲🏻- ولې دې دومره پس زنګ پسې ووهلو؟ دا مبایل خو ما تقریباً یوه نیمه میاشت له مخه پیداکړو؟

وېل یې:

👮🏾‍♂️- ما تول تحصیل نظامي برخه کې کړی ؛په همدې تړاو اوس د سرحدي پولسو په لیکوکې دعاجل کمک قوې، افسر یم؛ دسرحد په هر برخه کې چې وضعه اصطراري شي هغلته دکاپي اندازه سربازنو او مهماتو سره ځان رسول زما مسولیت ده؛ هغه ورځ زه او څو نور ملګري مې کارته سخي زیارت ته په چکر راغلي و، چې له وزارت نه یې زنګ راته وکړو، وېل یې:

په ډیورینډ کرښه د افغان او پاکستاني ځواکونو تر منځ جګړه رامنځ ته شوې اوس هم دوام لري، ددې خبرې په اورېدو سره بس موږ هم عجلې واخیستو، منډې منډې شوې، مبایل رانه رالوېدلی وو، زه سیده ولاړم سرحد ته څو ورځې جنګ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو، خبر شوی به وي؟ دوی هم څو نفر تلفات لرل، موږ هم د دوه زخميانو سر بېره، د قاسم جانه په نوم يو سر تېری شهيد ورکړ؛ که څه هم پس له دريو ورځو جنګ بس شو، خو موږ تر يوې مياشتې همغلته د آمده باش په حساب پاتې شو، هلته هېڅ شبکې کار نه کولو چې زنګ مې درته کړی وای نو په دې خاطر.

ومې وېل:

👨‍⚕️- ښا صحيح ماوېل چې څنګ زنګ نه وهې خدای ج ناخوسته مړ نه وې، په ګوشۍ کې دې هم له دوه شمارو پرته چې هغه هم بندې وې، نور هېڅ شماره نه وه، کني ما زنګ درته کولو،

وېل يې:

👮🏾‍♂️- هو رښتيا دا مبايل مې صرف د انټرنيټ لپاره کارولو، نه د بل چا نمبر پکې شته، نه يې بل چا سره نمبر شته.

په همدې کيسو کيسو وو؛ چې وړکي ورور

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې دلاس مینځلو ابوه راوړې، لاس مو پرېمنځل بودۍ موږ مو وخوړه، بیا مو چای را وکړو، ددې دوهم ځل چایو په سر مې اصلي موضع ور واچوله، جیب ته مې لاس کړ، دده خپل مبایل مې راویستلو، پرې راکوړ شو، زما په لاس کې یې په دې یوه ګوته کار پکې شروع کړ، ګالري یې راخلاصه کړه، اول یې ها دمور د عکسو پوښه وکتله، بیا یې په دې نورو عکسو زر زر نظر تېر کړو، نور یې له مبایل نه لاس ورټول کړ، وېل یې: کور ودان چې دا عکسونه خو دې نه دي، حذب کړي، مبایل پسې ولاکه په ټول ژوند درته راغلی وای مګر...
تر څو یې خپله خبره تکمیلوه په دې وخت کې ور وټکېدو، ور جګ شوم چې کټل مې مور مې هندوانه راټوټې کړې پټنوس مې ترې راوخیست د یونس مخ کې مې کېښودو له مخامخ نه زه ورته کېناستم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکېناسو سره سم يې وېل:
👮🏾- کاشکې دومره ډېره يې نه وای راالېږلې، زه دومره نشم خوړلی؛ ستا خو هسې بده ايشي نه يې خوړې!
ومې خندل، ورغبرګه مې کړه:
👨🏻‍⚕️- هو؛ دا خو ده، اما تا دې چې پرهېز مات کړ، ډوډۍ دې وخوړه، زه هم نن ستا په خاطر خپل ذوق تر پښو لاندې کوم، بل دا چې دمېلمه سره ګوتې وهل ثواب لري خبر به يې؟
دلته نو دواړو يوه وړه خوله خندا وکړه، پسې پيوست څه نورې ټوکې ټکالې شوې، بلاخېر ورته ومې وېل:
👨🏻‍⚕️- سړيه تا خو د سيارې په مسيج او کيسو بېخي خاشه اچولې شروع وکړه کني منه که مبايل رانه يوسې.
په خندا شو، بيا يې وويل:
👮🏾- د مبايل له ورکېدو مخکې دسياره په نوم؛ يو تخلوص هم پسې و؛ اوس مې هير

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی چې څه وو؛ یو مسېج راغلو په دنده کې وم، نیم او نیمکله مې ولوستو، تر څو مې دصحیح لوستو کاپي وخت ورته پیداکو مبایل مې ورک کړو؛ هر څه پکې ولاړل، ته صبر اوس یې وګورم چې څه یې ویلي بیا به پرې وغږېږو.
لاس یې ور وغزو د دواړو تر منځ په پوشتۍ ایښی مبایل یې ورجګ کړ؛ دمسیجونو په لوستلو یې شروع وکړه؛ ما دا بل لور ته څنګ ووهلو، چای مې راواچوو، خاموش کیناستم تر څو مسېجونه ولولي، یو وخت مې کتل چې مبایل یې واپس په همغه خپل ځای کېښو، رنګ یې تک تور شو، ټول سورونه یې ګډ وډ شول، حتا غږ یې هم تغیر وکړو،
په خندا کې مې ورته ووېل:
- لکه چې تر اوسه دې مینه نه وه کړې، لمړۍ ځل دی چې دیوې نجلۍ له خوا داسې غږ آورې، ځکه یې دومره تاثیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

درباندې وکړو؟
👮🏾 - نه دغه خبره نه ده¡
👷 - ښا؛ نو بیا له ما وشرمېدې په ځینو رازونو دې چې سیارې رابرسېره کړي.
👮🏾 - نه، دغه خبره هم نه ده!
👷 - ښا، خی بیا نو ولې دومره تور او شین واوښتې؟
👮🏾 - یعني کیسه غواړې، نه مې پرېږدې؟
👷 - هغه د ورځې مبایل کې راسره کړی قسم دې که درته بې معنا وي؟ مه یې کوه¡
دلته مې بیا لږ رامسکی کړو.
ویل یې:
👮🏾 - د سیارې مسیج ته په کتو پوهېږم چې ته له ما دکومو، کومو پوښتنو ځواب غواړې، خو ددې ټولو پوښتنو ځواب کې دې زه، یوه وړکۍ کیسه کوم انشاءالله په نوبت نوبت به دې هره پوښتنه پکې ځواب شي ته صرف غوږ شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره داسې ده چې زه د (..........)
ولایت( .......) ولسوالۍ او (.........) کلي
دپلانکي (.........) زوی یم، دپنځو کالونو په عمر
وم، پلار مې یوه چاودنه کې خپل ځان له لاسه
ورکړو، بدبختانه یتیم شوم، یتیمي هم خیر بلا
پسې ددې وطن په هرو لسو ماشومانو کې یو، دوه
یتیمان دي، اما زما تر ټولو ستره بدبختي دا وه،
چې په داسې یوه کور، کلي، داسې یوه محیط کې
یتیم شوم، که څه هم ځانونه یې مسلمان ګڼل خو
کړه وړه یې په تمامه معنا هغه د(لوط ص)
دقومیانو وو؛ یعني لواطت؛ زنا، غصب، وژل،
ځورول او همداسې نورې هره مردار خورګي پکې
دمېړنو خلکو خاصه او ویاړ ګڼل کېدل، نه یې له
الله ج ذره وېره درلوده؛ نه یې دشرم او حیا په
نوم څه پېژندل؛ څه سر دې در خوږوم؛ تر څو مو
دپلار له ویر نه سترګې وچې دې په مور مې یې
منګولې خښې کړې؛ مشر، مشر کاکا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې نکاح کړه په داسې حال کې چې زما مور دده د کشرې لور همزولې راتلله، سینږیری وو، لنده یې دا چې له مور نه یې هم په ژوند یتیم کړم، نور مې مور دکاکا دکور مینځه شوه، او همداسې زه یې مریی دواړه د کاکا، دکاکا دمشرې ښځې، زامنو، لورګانو، میلمنو، غواګانو، پسونو، څمکو په خدمت کې شپه او ورځ سر په تلاق اوښتو که څه هم یوه کور کې اوسیدو، خو ما او مور مې په دریو څلور ورځو کې دیوې، دوه صحیح خبرو موقع نشوی پیداکولی، ها کیناستل؛ ځان او جامې راپاکول، یا نور هغه دمور او بچیانو تر منځ راز او نیاز خو په ځای پرېږده،

دا هم په هر حال، موږ دپلار په دوران کې ځان ته کور درلودو، دری څلور جریبه باغونه څمکې مو درلودې تر ټولو کاکا ګانو نه مو ژوند او اقتصاد ښه و، پلار مې د دارعلوم مدیر وو؛ ښه معاش یې لرلو؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکې مو دهکان کاله کولې، بس دالله ج تر رضا قربان شم، کله چې دا پیښه وشوه، کاکاګانو زما او د مور په شمول مې کور، ځمکې هر څه یې په خپل کور کې ور متغم کړل، نور به نو صرف دهغه او دغه د څېړې له وېرې او بچ کېدو په پار شپه، ورځ په هغه خدمتونو چنګاو وم، چې زما له توان نه به ډېر دراندہ وو؛ او همداسې مور مې هم، لکه څنګه مې چې پورته یادونه وکړه، دلته تنها زموږ کورنۍ داسې خدای ناترسه نه وه، عام ذهنیتونه همداسې وو، دکلي نورو خلکو هم چې څنګه استفاده رانه کېدله کوله یې، او دا تنها زما حال نه وو، دلته دهر یتیم، کونډه، بې کسه، بې وسه لپاره ځمکه سور تنور وه، په همدې اساس د خپلې کورنۍ سربېره دکلي له اکثریت خلکو ډېرې پستې ډېرې بدې، خاطرې لرم؛ چې دهغې ټولو کمه، کمه یادونه هم شپو شپو وخت ته اړتیا لري، تر نورو به تېر شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې ټولو له نمونې به دسیارې دپلار کوم چې مسېج کې سیارې هم اشاره ورته کړې، درته وکړم. یوه ورځ دکاکا دوهم زوی پیسې راکړې دوکان ته یې په سیګریټو پسې ولېږلم؛ ولاړم سیګریټ مې واخیستل کله چې واپس راتللم په لار کې مې دسیارې پلار ولیدو له همدې دوکان نه یې دسودا دروند پیټی راپشاه کړی وو؛ دانسانیت، ثواب، مشرانو ته د احترام له مخې مې پیټی ورسره راسیک کړ، دلوبیا او دال نخودو پلاستیکي خلتې مې ترې راوخیستلې، ددوئ کور زموږ له کورنه څو کورنه رامخکې وو، کله یې چې تر دروازه ور دننه شوو، وېل یې:
- خلتې په مخامخ سپاچه کېږده، زه وړاندې تېر شوم؛ ده ځای په ځای دحاویلۍ منځ کې خپل پنډوکی کېښوو، دروازه یې ځینځیر کړه، مخکې راتېر شو، چپ لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتاق طرف ته یې اشاره وکړه؛ وېل یې:
- ته راشه دلته یو څه دي، کاکا ته یې دې ور وړه، په غلته اراده یې پوه شوم، له تللو مې انکار وکړو، نور یې لاس راواچولو په زور یې کشکوم، که څه هم دی پوخته ځوان وو، زه وړکی دولس دیارلس کلن ماشوم وم، بیا هم دالله ج مرسته وه، ډېر وخت مو کشوګیر وو، خو اطاق ته یې ننه نه ایستی شوم، بلاخېر اطاق ته تر دننه کولو مې تېر شو، نور یې غوښتل چې همدلته حویلۍ کې خپله شهواني تنده راباندې ماته کړي، خو شکر دلته هم ونه توانېدو، که څه هم جامې مې یې راوشکولې، موشت، موشت ویښته مې یې لاسو کې ورپاتې شول، له خولې او پزې مې سرې وینې روانې وې، اما بیا هم دالله ج مرسته و، په دې اخېر کې چې نور له ټیپه هم لویدلی وم؛ یو موټی ایرې په لاس راغلې دا مې سترګو ته ور وشیندې، دی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو سترګو شو، ما دومره موقع پیداکړه چې د دروازې ځینځیر مې پکې خلاص کړ ترې راوتښوم، نور نه یم پوه چې سیاره چېرته وه، له کومې خوا یې لیدلی یم؛ مخامخ د بالاخانې کړکۍ وې، کېدی شي له بلاخانې یې زموږ سیل کړی وي، اما کله چې کور ته ولاړم ددې سربېره چې ډېر ځنډ مې کړی وو، جیب کې مې سیګریت هم مات شوي وو، ددې جرم په مقابل کې بیا دلته دکاکا زوی ډېر بې رحمه ووهلم، دشهادت ګوته یې راته وښودله وېل یې: دا وینې چې کږ، وږه ده؟ دا همغه ورځ د کاکا زوی راماته کړه، بیا صحیح جوړه نشوه، خلاصه لکه خنګه مې چې مخکې هم یادونه وکړه دسیارې دپلار کیسې ته ورته حتا تر دې هم تورې بدرنګه لسګونه خاطرې زه دخپل کور او کلي له خلکو لرم، بښلي مې نه دي، او نه یې بښم.
دا هم په هر حال،

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه وخت وروسته مې کاکا چې زما مور یې نکاح کړې وه، بېخي ضعیفه شو، نور دهېڅ کار نه وو، زامن یې نااهله وو، هغوئ هم مرسته نه ورسره کوله، همدا وو، چې اقتصاد مو بېخي صفر شو، دسمې لوږې سره مخ شو، په دې شپو ورځو کې یوه ورځ یې دهمدې مشر ورور پوښتنې ته یو بل په ده پسې کشر ورور یې راغلو، یعني دوهم کاکا مې، چې دا به تل په مسافریو کې وو، دې چې زموږ اقتصادي خراب وضیت ولیدو، خپل مشر ورور ته یې ووېل:

په (..........) ولسوالۍ کې د (..........) کلي ملک رحیم دخپلې مهمان خانې لپاره هر کال یو برابر ماشوم مزدور نیسي، اوس یې هم زما یو ملګري ته وېلي چې یو بیدار هلک راته راپیدا کړه، نو که ستا زړه وي، دا یونس به ورولېږو، کال وروسته یو نیم خروار غنم ورکوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاکا مې وویل:
- ولې نه، ورسره وغږېږه چې بل څوک ونه نسي. لنډه يې دا چې سبا نه، بل سبا يې ور روان کړم، کله يې چې تر دروازه ایستلم، مور مې داسې بې اختیاره چیغې وکړې، هر څه به مې حېر شي مګر دمور هغه درد به مې حېر نشي، خلاصه کاکا مې يې ملګري ته تسليم کړم، یوه شپه مې هلته وکړه سبا هغه سره موټر کې سور شوم تقريبا څلور، پنځه ساعته مزل مو وکړو، لاره کې مو یو ځل موټر هم بدل کړو، له یوه نه بنکته شو، بل ته وختلو، بلاخېره قضا ماسپښین وو، چې دملک رحیم کور ته ورسېدو، دکاکا ملګري مې زه ورته تسليم کړم، خپله واپس را روان شوو، که څه هم ملک صیب ډېر ورته ټینګ شو، چې کینه یو چای وڅښه، خو ده وېل: ځم ناوخته کېږي، ددې سړي را روانېدو سخت تاثیر راباندې وکړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

باور وکړه په ډېرو سختو حالاتو کې مې نه دي، ژړلي اما دلته ژړا راغله.
لنډه يې دا چې دلته مې خپل ژوند پيل کړو ملک صيب بد سړی نه وو، او همداسې ښځه يې ډېره ښه ښځه وه، دوې، درئ شپې خو يې ديو ګلاس پورته کولو هم راته ونه وېل، پس له دريو ورځو يې کرار کرار زما مسوليتونه راته وښودل، د مسوليتونو تر څنګ مې يې دخپلو بچيانو سره جومات ته د درس او لمانځه لپاره دتلو، او همداسې دکور لپاره يې چې استاذ ورته نيولی وو، دبچيانو سره يې يو ځای چې زما په سن او سال، يا لږ غټ او واړه وو، د درس وېلو وخت راکړو، دا چې په خپل کور کې بېخي ډېر او درانده کارونه زما په سر وو، دملک صيب په کور کې مې ځان داسې احساسو لکه دوزخي چې جنت ته ولاړشي، د وخت په تېرېدو سره ملک صيب هم ښه رانه ډاډه شو، زه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحاله وم، تر کارونو مې اختیار تېر و، یوازینی درد مې په مور روان ظلم، شاخه کارونه، دیو او بل له خوا وهل ټکول، او همداسې زما د راتلو په وخت ددې دسویو چیغو یاد وو، دې درد نو ځلورویشت ساعته کړولم، او دا آرمان به مې هم کوو: چې کاشکې زما له آرامتیا، خو چا خبره کړې وای، اوس به ځان ترې حیر وي، ماپسې به زړه خوري، بس په همدې آرمان، دکال دپوره کېدو په انتظار مې شپې او ورځې شمارلې تر څو کاکا مې په مزدورۍ پسې راشي بیا به زه هم ورسره لاړشم؛ مور به مې ووینم، له خپلې اسوده ګۍ به یې هم خبره کړم؛ نور به ډېر زړه نه خوري.
په دې وخت کې یې یوه غټه ساه واخیسته، بیا یې ووېل:
- خلاصه ورځ تر بلې د روخصتۍ د رانژدې کېدو، مور ته دتلو په امید مې ځان ته ډاډ ورکو، په همدې شان مې نهه میاشتې دملک

(c) ketabton.com: The Digital Library

صیب کور کې تېرې شوې، نور مې نو دوې میاشتې روخصتۍ ته پاتې وې، اخیرنۍ میاشت مې نو ټول روخصت وه، اګر چې دلته هم خپه نه وم؛ نه مې نور خپل کور، کلي ته زړه کېدو، صرف مور مې نو سخته یادېده،
بلاخېره په همدې شپو ورځو کې یوه ورځ د نورو ورځو په څېر دملک صیب د دوه زامنو او یوې لور سره دسهار ټیم درس وېلو لپاره مسجد ته ولاړم، مسجد ته دداخلیدو سره سم دملک صیب مشر زوی (سردار ) چې زموږ تر مخ وو، سلام یې واچو، دمسجد په تبۍ یو څو کسان ناست وو، سلام یې علیک کړو، وړاندې دېوال ته یو بل سپینږیري ډډې وهلې وه، چې ورته ومې کتل زموږ یو کلیوال و، خدایزده له کومې خوا به راغلی وو، خو په همدې مسجد کې یې مسافرانه شپه کړې وه، ورغلم ستړي مشي مې ورسره وکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده ونه پېژندلم، وریاده مې کړه د پلانکي زوی د پلانکي لمسی یم، نور یې وپېژندلم وېل یې: ښا، ښا شابس ماشاءالله ځوان شوی یې، پلار دې خدای ج وبښه، هغه وخت ته ببخي وړکی وې، پسرلی دې دمور جنازې ته هم درغلی وم؛ ستا پوښتنه مې وکړه، ماوېل زه به دې ووینې، چې وړکی یې، که غټ...

زر مې ووېل:

- زما د مور جنازې ته؟

راغبرګه یې کړه:

- هو، ولې کاکا دې (شیردل خان) چې نکاح کړه ستا مور نه وه؟

ددې خبرې تر اورېدو وروسته په ځان نه یم پوهېدلی، که څه هم څه وخت وروسته هغه خلکو راته وېل: داسې چیغې دې وکړې چې درس ته راغلي ماشومان ټول له مسجد نه وتښول، خو زه په خپلو چیغو هم نه یم خبر شوی، او نه په دې پوه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې چا یوړم، خو یو وخت مې چې سترګې وغړولې شپه وه، دکلی په کلینک کې وم؛ سیروم راته بسته وو، تر لږ څه زیات رابیدارېدو وروسته په همغه شپه کې کور ته راروان شو، ملک صیب او یوه خور یې هم راسره وو، په لار بیا راته دهغه سپینږیري خبره یاد شوه، دا ځل بې هوښه نشوم خو ژړا مې نشوی کنترلولی تر کوره مې په چیغو چیغو زړل؛ په ټول ددې ټول عمر کې چې دملک صیب سره مې تېر کړی وو، تش تندی مې یې دځان په وړاندې تریو نه و لیدلی، اما دلته به سخت په قهر شو، بار بار یې دوهلو ګواښ راته وکړو، خو دا چې ماته مې دټولې زندګۍ په میراثه کې یوه مور، هغه هم دظالمانو په غېږه کې ګروګان راپاتې وه، نن له هغې هم خلاص شوی وم؛ حتا جنازې ته یې هم چا نه وم وروستلی، زړه مې سخت درد کوو، په خپله ژړا مې اختیار نه درلودو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور ته له رسېدو سره سم زما دحال په لیدو، د
ملک صیب ښځې، خور یې، بچیانو یې هم ښه
پوره راسره وژل، ملک صیب ډاډ راکولو چې ژاړه
مه سبا دې کورته بیایم، ټول دوستان به دې
ووینې، ښې ډېرې شپې ورسره وکړه.
دملک صیب دې ډاډګیرنې مې لا په زخمو مالګې و
دوړولې، په سلګیو سلګیو مې ورغبرګه کړه:
- زه نور هغه کور ته نه ځم؛ که ته مې له خپل کور
او کار نه ددایم، لپاره رخصت هم کړې، سرصحرا
په غرونو ځم، اما هغه کور ته نه ځم.
ملک صیب ووېل:
ولې پلار، دکورنۍ نور غړي دې نه یادېږي؟
ددې خبرې په کولو سره دی، ملامت نه وو، ځکه
چې ما به ددوی په مخکې تل دمور تر څنګ دکاکا
نوم هم کاکا نه بلکې پلار یادو، او همداسې
اولادونه به مې یې خویندې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورونو یادول.
دلته نو دیوې خوا دده په ځواب کې مجبور شوم؛
له بلې خوا، درد اخیستی وم داصلي پلار دمرګ،
وروسته دکاکا له خوا مې دمور نکاح، دکور ملک او
مال چور چپاول ......
یعني ټوله کیسه مې ورته وکړه، ملک صیب هم په
زړه ډېر نرم انسان وو، دکیسې په اورېدو یې تر ما
ډېر وژړل، په عین حال کې یو ځل بیا په قهر شو،
وېل یې:
تا ولې مخکې دا کیسه نه کوله، خو بیا هم چورت
خراب نکړې، ته نور دهیچا زوی نه یې زما زوی
یې، زه به دچا څه، او څه وکړم چې درپسې راشي،
خلاصه لکه څنګه یې چې ووېل، تر دې وروسته
یې دلباس، خوراړو، او بل هر ناز او نزاکت له
حسابه تر خپلو بچیانو کم ونه شمارلم، که څه هم
ما مکتب نه و، وېلی مګر ښه وم، ددې خو میاشتو
په لړ کې مې مسجد او کور کې دده دبچیانو سره
د درس وېلو په نتجه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده دبچیانو په اندازه لیک او لوست زده کړي و، په داسې حال کې چې دده بچیان په اتم او نهم صنف کې وو، دا استدا به مې مخکې له مخکې هم ملک صیب وخت ناوخت ستایلو، په دې وخت کې یې نو خپلو بچیانو ته سې پارچې جوړې کړې وې، نور یې نو دکلي له لیسې د ولایت مرکز کې دافغان ترک لیسې ته انتقالول، زما سره یې د زوی واله تر وعدې وروسته دهغه سې پارچې وځندولې، زما په کارونو یې شروع وکړه؛ ملک صیب د منطقې برحاله ملک و، په ولس کې یې ښه محبوبیت، ښه نفوس او قدرت لرل، او همداسې په هر چا یې ښه ناز چلېدو، په همدې تړاو یې په تول د پنځلس، شلو ورځو کې دکلي په لیسه کې په مدیر صیب او استاذانو تر نهم صنفه ښه پاک اسناد راته جوړ کړل، نور یې نو سې پارچه راته جوړه کړه، دخپلو بچیانو سره سم یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولایت مرکز کې دافغان ترک لیسې کې شامل کړم؛ دلیلیه کارونه مو یې راته جوړ کړل، دلته یې هم ډېر استاذان پېژندل هغوی ته یې معرفي کړو، وخت ناوخت به یې فام راباندې کوه.
نور په دې نه یم پوه چې په ما او مزدورۍ پسې به مې بیا زما له کورنۍ څوک راغلل وي، که به نه وي راغلي، خو که راغلي هم وي، دملک صیب سره یې وس نه کېدو. طبعاً ډېر بې خونده به یې ځواب کړي وي.
را به شم خپلې مخکنۍ خبرې ته، خلاصه درې کالونه مې په افغان ترک لیسه کې درس ووېلو، پس له دریو کالو له دولسم صنف نه عمومي دریم نمره فارغ شوم؛ دملک صیب یو زوی چې زما همصنفی و، څورلسم نمره شو، ها بل خو یې لا په یولسم صنف کې و،
مقصد، ژمی مې د ملک صیب په کور کې تېر کړو، پسرلی مې بیا دده په مشوره او

(c) ketabton.com: The Digital Library

همکاری کابل کې نظامي پوهنتون ته امتحان ورکړو، ځکه چې زه له بې نظمۍ او بې قانونۍ ډېر کرېدلی وم، دنظام دنوم وږی، تږی وم، ډېره مینه مې ورسره درلوده.
څه وخت ورسته چې نتایج اعلان شول، خوشبختانه کامیاب وم، نور مې نو دڅلورو کالو لپاره دلته زده کړې وکړې، د درس له پلوه مې خپله ډېر کوشش کو، مالي مرسته مې ملک صیب کوله، بلاخېره څلور کاله وروسته مې دیو ممتاز محصیل په حیث خپل اسناد ترې ترلاسه کړل، نور مې نو د سرحدي ځواکنو په لیکو کې رسماً دیو افسر په بڼه دنده واخیسته، چې تر ننه دری کالونه کېږي چې نموړې دنده مخ ته وړم، اوس شکر په هر څه برلاسی یم، داسې فرض کړه چې دټول هیواد قدرت له ماسره دی، ځکه دهرې ساحې قومندان، او واکمن مې همصنفی او ملګری ده، یعني که

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغوارم چې له هغه خلکو مې غچ واخلم، یکه یکه
یې سر په تندي راځورندوم، اما نه غوارم ځکه تر
مانه الله ج ښه سزا ورکوي، دوه کاکاګان مې مړ
دي دا خو هسې دخدای ج حصور ته ورغلي، دریم
چې ژوندی دی، دا پوړي دی اوس یې دکابل په
پل سخته کې دکابل دسیند مرداری خوراک دي، او
زامنو یې دځمکو په سرجنګ سر وکړو دوه یې له
یوې خوا ووژل یو له بلې خوا، ها نور یې لا اوس
هم دیو بل لپاره خلاص چاقوګان جیبو کې
ګرځوي، او همداسې دکلي هغه فرد، فرد چې
ماسره یې ظلم زیاتی کړی، ته باور وکړه پرودیګار
سر په دنیا دوزخیان کړي، یو غذاب نه، یو عذاب
پرې نازل دی ښه په خوند کړېږي، نو ماته حاجت
نشته؛ ددې ټولو له جملې یوازینی کس همدا
دسیارې پلار ده چې لا هم تکړه په آرامه خپل کار
او کسب کوي، ددې لپاره څه وخت له مخه ما
تصمیم ونیو چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

راسره کړې هغه جفا په وړاندې يې يو ګوزار ورکړم، اما واپس ځکه پښېمانه شوم چې يو دوه بچيان يې لا واړه دي، ماويل: چې که په دوه، دريو څپړو يې رنګه بدوم، دا خو په درد نخوري، که له منځه يې وړم يا يې د ابد لپاره بستري کوم دهغه ماشومانو سرنويشت به يې په ها خدای ناترسه کلي کې زما په شان شي، لاحول ولاقوت.... مې ووېل دوه رکعاته لمونځ مې وکړو نور کرار کيناستم، ځه ماوېل پروردیګاره¡ ته پوه شه او کار دې، زما دې صبر تاته وي.

نور يې وخندل ووېل:

👮🏾‍♂️- داسې غوړې دي ايا کومه پوښتنه دې بې ځوابه پاتې ده؟

مسکی شوم ورغبرګه مې کړه:

👷🏻- شکر چې را وروسته دې کيسه سمه کړه کني نور مې دې په خوله لاس درته ايښود،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نژدې دې زړه راته چاودلی و.
خو په هر حال رابه شم دې خبرې ته چې که فام دې وي، دسیارې مسیج ته په کتلو دسیارې دپلار په وړاندې صبر دې رنګ راوړی؟
په مسکا یې راغبرګه کړه:
👮🏾‍♂️ولا څه ووایم¡
ومې خندل ماوېل:
👷- نه، داسې یې نه منم که غواړې چې دمبایل دې واپس صاحب شې پاکه خبره وکړه، دسیارې هیلې او آرمانونه به څنګه شي؟
خندل کې یې وېل:
👮🏾‍♂️-ته صبر، لکه څنګه چې مسیج کې سیارې وېلي وو، ها خبره یې زما ډېر خوښه هم شوه همداسې ماته هم تر ظاهر نه باطن او معنویت ارزښت لري، زه به یې دناستې، ولاړې، ځینو نورو حسابونو په اړه چې اړین دي لږ لږ معلومات وکړم، نور خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو زه هم داشرف غني زوی نه یم: دمسکا په زیاتوالي یې زمینه سازي ورته وکړه، پسې پیوست یې وویل:
👮🏾‍♂️ بیا خو نو زه او ته شته یو انشاءالله. (یاران زنده صحبت باقي.)
په خندا کې مې ورغبرګه کړه:
👨🏻‍⚕️قسم بل راته کوې که، همدا مخکنی صحیح دی؟
وې خندل ویل یې:
👮🏾‍♂️ نه، همغه صحیح ده.
په دې خبره پسې دواړو لږ وخندل
او همدا مو دمجلس اخیري شوه، نور نو قریب دوې بجې وې ویده شو، خلاصه شپه تېره شوه، سهار یې چای راسره وخوړلو، نور یې ویل ځمه، که څه هم ډېر ورته ټینګ شوم خو ویل یې: نه څه کارونه لرم؛ مبایل یې ورپورته کړو غوښتل یې چې میموري کارد ترې وباسي، ویل یې: مبایل نه وړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس مې يې ونيوو مېموري کارت استلو ته مې پرې نښوو، ومې خندل وېل مې:
👷🏻 واچوه جيب ته ما چې داسې ډيسي مبايلونه اخيستی له سره مې تماس نه درسره نيولو،
دی هم په خندا شو مبايل يې جيب ته کړو، دچپ لاس په منځنۍ کوته يې يوه غټه دسپينو زرو ګوتمۍ وه، د فيروزې غمی يې درلود، دا يې راويستله وېل يې:
👮🏾‍♂️- اممم واخله خی دا ډيسي نه ده.
 په دې کې نو ما هم څه ونه وېل، نر غونډې مې ډيو ښه ځوان يا ملګري ديادګار په ښه دخورا شوق او مينه سره ترې په ګوته کړه، ډېره ښه جوړه هم راغله؛ نور ورسره روان شوم په استادګاه مې خدای ج پماني ورسره وکړه، دی ټکسي ته وختو، زه واپس دکور په لور راروان شوم.
د يونس، سره د پورتنۍ مرکې مې پوره يولس مايشتې ووتلې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرون يې زنګ وهلی وو، تر اوليه سلام، کلام وروسته يې وېل:
- دميدان هوايي په سرک د(..........) ودونو تالار په دريم او څلورم سالون کې زما او سيارې کورنۍ زمونږ د دواده مراسم لمانځي له تاسو ښاغلو او آغلو په خورا مينه، هيله ده چې تنها مو پرې نږدئ،
بلاخير بېګاه مونږ هم فاميلي ورغلو له هر اړخه ښه مستانه او رنګين واده يې برابر کړی وو.
يونس له ډوډۍ خوړلو مخکې دهوټل نه بهر دروازه کې ديوې دقيقې لپاره راسره ودرېدو په منډه منډه خندا يې وويل:
👮🏽‍♂️- سياره ترکيه کې وه، ولاړم دهغه څه په اړه مې ځان ښه مطمين کړ چې مخکې مې درته وېلي وو، بيا دا راغله کابل ته، ډاکتره ده، پيسې ميسې لري، ها ورځ مو دميکرويانو په بلاکو کې يو کوړګی واخيست، لږ فرشو ضرف مو واخيست،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن نو پخير دا معامله ده چې وينې يې، باقي دې نو الله ج خير کړي، خندا ته يې څه زور ورکړو لاس مې يې ور ونيوو څېره يې شرکنده زما څېره کې ووهله نور رانه روان شو.

( پای)

ـــــــ ليکوال نعيم جان وردګ ـــــــ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**